بسم الله الرحمن الرحیم

## آیا الاقصی د یهودیانو له بې حرمتۍ څخه د پاکولو لپاره، صلاح الدین نه لري؟

**(ژباړه)**

ټوله ستانیه الله لره ده، چې قوي او عزیز دی، ټوله ستاینه د مومنانو ملاتړي لره ده، ټوله ستاینه هغه الله لره ده چې فرمايي:

**{سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلاً مِنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى الَّذِي بَارَكْنَا حَوْلَهُ لِنُرِيَهُ مِنْ آيَاتِنَا إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ}**[الاسراء:١]

*__ژباړه:__ هغه ذات پاک دی چې یوه شپه یې خپل بنده له مسجد حرام څخه تر هغه لیرې (اقصی) مسجد پورې بوته، د هغه (محمد ص) چاپېریال مو برکتي کړی دی، چې خپلې ځینې نښانې پرې وګورو(ونښيو). په حقیقت کې هماغه (الله) د هر څه اورېدونکی او لیدونکی دی.*

درود او سلام د وي د هدایت پر رسول صلی الله علیه وسلم، چې فرمایلي یې دي:

**«وَلَيُوشِكَنَّ أَنْ لَا يَكُونَ لِلرَّجُلِ مِثْلُ شَطَنِ فَرَسِهِ مِنَ الْأَرْضِ حَيْثُ يَرَى مِنْهُ بَيْتَ الْمَقْدِسِ خَيْرٌ لَهُ مِنَ الدُّنْيَا جَمِيعاً»**

*__ژباړه:__ بیشکه ډېر ژر به داسې وخت راشي، چې د یوه سړي لپاره به د آسونو د رسۍ په اندازه ځمکه وي چې له هغې څخه یې د بیت المقدس لیدل د ټولې نړۍ څخه غوره وي.*

**اې مبارک ټولیه، ای مسلمانانو!**

د صلیبیانو له شر څخه د بیت المقدس د آزادۍ د کلیزې په مناسبت یهودي ادارې یو قانون تصویب کړ، چې له مخې به یې د الاقصی جومات د یهودانو په عبادت ځای د بدلولو لپاره به پراخه دروازه پرانیزي او خپل مذهبي مراسم او عبادتونه به تر سره کوي. که چېرې د خاینانو خیانت او د جنایتکارو واکمنانو دسیې نه وای نو د الله تعالی هغه ذلیله مخلوق به دغه جرم نه کاوه او د مسلمانانو اولي قبلې ته به یې سپکاوی نه کاوه.

**ای مسلمانانو:** د القدس نړیوال سازمان په تازه راپور کې راغلي، چې الاقصی جومات د یهودي ادارې لخوا له یوې جدي هڅې او ناوړه برید سره مخ دی. د الاقصی جومات په ټوله سیمه کې د دوی د ادعا شوي، معبد د جوړولو لپاره چمتوالی نیول کیږي، تر څو د دوی د انجیل مذهبي تشریفات ترسره کړي.

په الاقصی جومات کې د یهودانو د عبادت د حق په اړه د یهودانو د محکمو اعلان په اصل کې ستاسو پر وړاندې د جګړې اعلان دی، چې دا د القصی جومات د نیولو لپاره یو ډېر خطرناک اقدام دی. د یهودانو دغه کار د صلیبیانو د هغه کار په څېر دی چې په ۱۰۹۹ کال کې یې له اشغال څخه وروسته ترسره کړ، کله چې دوی د ډبرې په ګنبد کې د سرو زرو صلیب جوړ کړ، نو هغه یې بیا په کلیسا باندې تبدل کړ. دوی له القبلې جومات سره یې هم ورته کار وکړ، د الاقصی جومات او د هغه د ودانیو بې حرمتي یې وکړه او ځنیې ځایونه یې د آسونو د درېدلو پر ځای تبدیل کړل. **ای مسلمانانو تاسې به څه اقدام کوئ!؟**

هغه څه چې دا ډارنه یهودي اداره یې دغه ګام ته هڅولې؛ د دوی خیانت کوونکي او تسلیم شوي حاکمان دي او هغه څه چې دا اداره یې دغه ګام اخیستلو ته وهڅوله، په اسلامي نړۍ کې د خاینو، تسلیم شویو حاکمانو پیدا کول وو! د متحده عربي اماراتو واکمنانو دوی د خپلو رهبرانو په توګه قبول کړل. د بحرین واکمنان یې ماموریت کوي او الوتکې ورته لیږي، د سوډان او مراکش واکمنان ورسره تړونونه لاسلیک کوي، د مصر فرعون د سولې د فضا د رامنځ ته کولو لپاره هره ممکنه هڅه کوي، ترڅو دوی وکولی شي ځانونه لویدیځې څنډې او الاقصې جومات ته ورسوي، د اوردن پاچا د شرق لخوا د دوی ساتنه کوي.

الاقصی جومات د خبرو اترو او شراکت لپاره متاع نه دی او نه هم د رسمي ملاتړ پر سر د سیالۍ ځای دی. الاقصی جومات د رسولانو د لمانځه ځای دی، د تاسې د رسول حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د معراج ځای دی او ستاسې لومړۍ قبله ده، چې د اسلام په پیل کې مو ورته لمونځ کړی دی. دا د مسلمانانو درېیم جومات دی چې کولی شئ سفر ورته وکړئ. ای مسلمانو ځواکونو ایا الاقصی باید د هغو کسانو په لاس کې وي، چې له ذلت او بدمرغۍ سره مخ دي!!

**ای مسلمانانو! د فلسطین مسئله ستاسې مسئله ده**، نه د ازادۍ غوښتونکي حزب، چې له پیله تر اوسه پورې د دغې دسیسې یوه برخه وه، اوس هم د دغې مسئلې د حل او پای ته رسولو لپاره غواړي، چې له اسلامي چوکاټ څخه یې په جلا کولو سره مسئله ملي کړي. دا مسئله د هغه چا مسئله ده، چې له الله سبحانه وتعالی او د هغه له رسول صلی الله علیه وسلم سره مینه لري، **ای مسلمانانو د خپل رسول د مسرې د ملاتړ لپاره بېړه وکړئ، د خپلو مقدساتو د پاکولو لپاره راپورته شئ.** الاقصی جومات د خبرو اترو، نړیوال مشروعیت او یا هم د امنیت شورا له لارې نه ازادېږي او نه هم د عربو د اتحادیې په واسطه ساتل کیږي، دا د دسیسو او خیانت بنسټونه دي. بلکې د صلاح الدین د یوه قوي لښکر او الله اکبر په نارو وهلو سره ازادېږي، لکه څنګه یې چې ازاد کړی و؛ داسې لښکر چې د غرونو په څېر له خلکو سره جنګیږي او داسې وسلې، چې دښمنان وویروي، **نو ستاسې د الاقصی د ملاتړ لپاره خپل لښکر په حرکت راولئ.**

**ای مسلمانانو!** د امریکا پر تسلط او دسیسو مه تېروځئ، ځکه چې له اسلامي امت سره د مخامخ کېدو لپاره ډېره کمزورې ده، که چېرته اسلامي امت د انحطاط او د غفلت له خوبه راپورته شي او د الله تعالی نصرت به د مومنانو لپاره ان د یوه ساعت په کچه هم نه وروسته کیږي. اسلامي امت د چین او فرانسې په څېر نه دی، بلکې د قادسیې، یرموک، ذلاقه، محقس، عین جالوت او حطین په څېر د څرګندو جګړو امت دی. د دې امکان شته، چې امریکا یهودیان پرېږدي. لکه څرنګه چې اروپایي هیوادونو په فلسطین کې صلیبیان پرېښودل او له یوه ناڅرګند برخلیک سره یې مخ کړل.

**ای مسلمانانو!** د فلسطین د آزادۍ وخت را رسېدلی، نو څوک به دغه ستر ویاړ ترلاسه کړي. د دغه ناروغۍ د درملنې ، د دښمنانو د ضرورنو د لرې کولو او د ځمکې له پاتې برخې څخه د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم له غضب څخه د پاکولو لپاره سخت کار وکړئ. د دغه کفارو ریښې غوڅې کړئ. دا ورځې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له پیروانو څخه د اسلامي انتقام غوښتنه کوي، لکه څرنګه چې قاضي محي الدین وروسته له صلاح الدین ایوبي څخه د بیت المقدس د آزادۍ په خطبه کې وویل: «**ای اسلامي لښکرو، ای د هر ځای مسلمانانو، الاقصی جومات تاسې او ستاسې ملاتړ غواړي، نو تاسې به کله دغه غوښتنې ته ځواب وایئ؟**»

**ای مسلمانانو!** یوه شئ چې د الله تعالی منه به خامخا پوره کیږي، الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**{وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِنْ بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْناً يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئاً وَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذَلِكَ فَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ}** [النور: ۵۵]

***ژباړه:*** *الله تعالی ستاسو له هغو کسانو سره چې ایمان راوړي او نېه عملونه وکړي، وعده کړې ده چې هغوی په ځمکه کې همغه شان خلیفه ګان وګرځوي لکه چې له هغو څخه مخکې تېر شوي خلک یې ګرځولي وو. د هغو لپاره به هغه دین پر محکمو بنستیونو ودروي چې الله تعالی ورته خوښ کړی دی او د هغو د وېرې (اوسنی) حالت به په امن ورته بدل کړي. هغوی دې زما بندګي کوي او زما سره دې کوم شی نه شریکوي او څوک چې له دې وروسته کفر غوره کړي، نو همداسې کسان فاسقان دي.*

الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**{فَإِذَا جَاءَ وَعْدُ الْآخِرَةِ لِيَسُوءُوا وُجُوهَكُمْ وَلِيَدْخُلُوا الْمَسْجِدَ كَمَا دَخَلُوهُ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَلِيُتَبِّرُوا مَا عَلَوْا تَتْبِيراً}** [الاسراء: ۷]

***ژباړه:*** *بیا کله چې د دویمې وعدې وخت راغی، نو موږ نور دښمنان پر تاسې مسلط کړل چې هغوی ستاسې څېرې غمګینې کړي او په مسجد (بیت المقدس) کې په همغه شان ننوځي، لکه څنګه چې مخکې دښمنان ننوتلي ول او پر کوم شي چې د هغو لاس بر شي هغه تباه کړي.*

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي:

**«لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يُقَاتِلَ الْمُسْلِمُونَ الْيَهُودَ، فَيَقْتُلُهُمُ الْمُسْلِمُونَ حَتَّى يَخْتَبِئَ الْيَهُودِيُّ مِنْ وَرَاءِ الْحَجَرِ وَالشَّجَرِ، فَيَقُولُ الْحَجَرُ أَوِ الشَّجَرُ: يَا مُسْلِمُ يَا عَبْدَ اللهِ هَذَا يَهُودِيٌّ خَلْفِي، فَتَعَالَ فَاقْتُلْهُ، إِلَّا الْغَرْقَدَ، فَإِنَّهُ مِنْ شَجَرِ الْيَهُودِ»**

***ژباړه:*** *قیامت تر هغه وخته نه واقع کیږي، څو چې د مسلمانانو جنګ له یهودو سره ونه شي، مسلمانان به یې تر هغه وخته وژني ترڅو چې یهودان د ونو او کاڼو ترشا پټ شي، نو دغه کاڼي او ونې به وایي: ای مسلمانه ای د الله بنده دلته زما ترشا یهودی پټ دی، راشه او ویې وژنه، خو د غرقا ونه به ونه وایي، ځکه دا د یهودانو ونه ده.*

**ای مسلمانانو**، سمدلاسه حرکت وکړئ، د خپل دين او الاقصی د ملاتړ لپاره حرکت وکړئ. د دين د تاسيس او د مبارکې خاورې د ازادولو د ملاتړ لپاره حرکت وکړئ. ځکه تاسې د صلاح الدين نسل یاست، نو له خپلو منځونو څخه یو نوی صلاح الدین را پیدا کړئ، چې القدس د یهودو له بې حرمتۍ څخه پاک کړي.

یا الله موږ له تا څخه د نبوت په طریقه د دویم راشده خلافت غوښتنه کوو، ترڅو دین حاکم کړي د مسلمانانو ملاتړ وکړي او اشغال شوی القدس ازاد کړي.

**#Aqsa_calls_armies**

**#OrdularAksaya**

**#AqsaCallsArmies**

**#الأقصى_يستصرخ_الجيوش**

**# الاقصی پر پوځیانو غږ کوي**

**حزب التحرير- د فلسطين مبارکه خاوره**

**۱۴۴۳هـ.ق، د ربيع الاول ۲مه**

**۲۰۲۱م، د اکتوبر۹مه**